کېتي شيهان
مېير

د اېلبني ښار
د عمومي خدمتونو رياست
ون کانرز بولاوارډ
اېلبني، نيوياړک 12204-2514
5184342489 فېکس 4277499
WWW.ALBANYNY.GOV

ډېنيل سي ميرابل
کمشنر

# د ښار د کوډ يادونې

**(کوډ:8 - 313 ) د کور خځلې & او ريسايکل کول**

له کورونو د خځلو (ګند) او د ريسايکل (بيا په کار راوستلو) لپاره د اېلبني ښار پروګرام موخه له کورونو په اوونيزه واره د خځللو ټولول او د 4 له واحدونو ټيټ استوګنيزو تعميرونو د خځلو ريسايکل کوي. د غورځولو توکي بايد د راټولنې په ټاکلې ورځ د شپې 12:01 بجې نه وړاندې د سړک په غاړه کېږدئ، خو پام چې يوه ورځ وړاندې د مازديګر 4:30 بجو نه مخکې يې کېنږدئ. که د سړک پر غاړه مو له ټاکلي مقدار زيات ګند او د ريسايکل مواد کېښود نو کېدې شي بل يې واخستل شي يا پر تاسو جرمانه راشي. له حده زيات مقدار هغه دی چې يو کس يې نشي سنبالولی، په ګاډي کې په يواځې تن نشي غورځولی او که مزدوران پرې ولګول شي نو د ګاډي او د خځلو په منځ کې به 4 ځله تلو راتلو ته جاجت ولري.

**(کوډ:8 - 313 ) د کور خځلې & او ريسايکل کول)**

د درې موادو د کېږدولو نه وړاندې، بايد پام وشي چې د موادو ډبې او د په پلاستيکي کڅوړو کې ترل شوی ردي مواد د کورونو مخامخ غولو، د سړک پر غاړه لارو يا د عامه خلکو د تېرېدو نورو ځايونو نه لرې وي او د ښار په ښکلا باندې بد اغېز پرېنږدې.

**(کوډ:47 - 313 ) د جاېداد سمه ساتنه**

د اېلبني په ښار کې بايد ټول جاېدادونه او/يا ورسره نږدې عامه لارې له ګند، رد شوي سامان او د ځناورو د فضلې له ډېرې زياتې جمع کېدا نه پاکې وساتل شي.

**(کوډ:51 - 313 )  د جاېداد سمه ساتنه**

ټول جاېدادونه بايد داسې وساتل شي چې پکې له حده زيات په خپله کېدونکي بوټي يا ناخوښ بوټي خواره واره نشي.

**(کوډ:4بي - 313 ) د کور بهرد غولي ردي مواد**

هېڅ وخت بايد پاڼې، رېبل شوي واښه او د غولي نور ضايع مواد سړک ته راپورې نه وهل شي. دا مواد بايد په حياتياتي توګه تلف کېدونکو (بايو ډيګرېډېبل) کاغذي کڅوړو کې واچول شي او بايد د خځلو د اوچتولو لپاره ټاکلې ورځ نه وړاندې پر ماښام د سړک په غاړه کېښول شي تر څو يووړل شي. مهرباني وکړئ د پلاستک کڅوړئ مه کاروئ.

**(کوډ:8 - 313 ) د استوګنيزو تعميراتوردي مواد**

د استوګنيز تعمير ردي مواد بايد په سمه توګه ډبيو کې بند د سړک په غاړه کېښول شي تر څو يووړل شي، خو بايد دا د 1 تن لپاره د سنبالښت وړ وي چې يو يې سي او په ګاډي کې يې واچوي، يعني دا مواد دومره زيات نه وي چې مزدوران اړ کړي چې د ګاډي او ردي مواد په منځ کې 4 ځکه لاړ راشي. د تعميراتو ردي مواد بايد په يوه مياشت کې دوه ځله نه زيات د سړک پر غاړه کېنښول شي.

**(کوډ:21122 - 323 ) واوره**

د ټولو جايداد مالکانو او/يا د اوسېدونکو مسووليت دی چې د واورې د طوفان له ختمېدا وروسته په 24 ساعتونو کې دننه خپل کور مخته د پياده تلنې لاره له واورې پاکه کړي.

**(کوډ:21 - 323 ) واوره**

هېڅ کله اجازه نشته چې څوک دې واوره  په بېلچو، د ټېکټر په بلېډ يا د واورې د الوځونې د مشين په استعمال سره  د ښار سړکونو، لارو، يا د پياده تېرېدو ځايونو ته راوغورځوي.

**که څوک د دغه کوډونو نه سرغړونه وکړي نو د $650 جرمانه پرې لګېدلای شي او وروسته د صفايۍ پيسې به هم ترې اخستل کېږي.**

**د ردي مواد د راټولنې او د ريسايکل کونې د پروګرام په اړه د معلوماتي کتابچې يو نقل اخستلو لپاره د عمومي خدمتونو رياست ته په 518-434-2489 ټيليفون وکړئ.**